ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**امجد علی خاکسار**

پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ

**ڈاکٹر کرن سنین**

اسسٹنٹ پروفیسر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ

# زمان او مکان یوه کتنه

**Amjad ali Khaksar ***
Phd (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.
**Dr Kiran Seeneen**
Assistant Professor, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.
***Corresponding Author:** amjadalikhaksar2015@gmail.com

## An Overview of Time and Space

This article presents an introductory and conceptual study of time and space, focusing on their meanings, definitions, and evolving interpretations across different intellectual traditions. Time and space are among the most fundamental categories of human thought, shaping not only physical reality but also cultural, religious, philosophical, and literary worldviews. The study begins by clarifying the basic concepts of time and space and tracing their semantic and conceptual foundations. It then examines the mythological understanding of time and space, where they are perceived through symbolic, cyclical, and sacred frameworks. Furthermore, the article explores the social conception of time and space as culturally constructed realities that organize human life and collective experience. The theological and religious perspectives are discussed to highlight how divine order, eternity, creation, and sacred space influence human perceptions of temporality and spatiality. The paper also addresses the philosophical interpretations of time and

space, drawing attention to their metaphysical and epistemological dimensions. In addition, the literary perspective is analyzed to show how time and space function as aesthetic and narrative elements in literary expression. Finally, a brief discussion of the scientific conception of time and space is presented, emphasizing modern scientific thought and its impact on contemporary understanding. By offering a comparative and interdisciplinary overview, this article aims to provide a comprehensive conceptual framework for understanding time and space as dynamic and multifaceted constructs across mythological, social, religious, philosophical, literary, and scientific discourses.

**Key Words:** *Time, Space, Mythological Concept, Social Perception, Theological Perspective, Religious Thought, Philosophical Interpretation, Literary Concept, Scientific View.*

زمان او مکان دواړه د عربۍ ژبې الفاظ دي چې اکثر مرکب وئيلے شي دا په اردو، پښتو،فارسۍ کښې هم د عربۍ په شان په دغه معنا او مفهوم کښې استعماليږي ، په انګرېزۍ کښې ورته Space and Time وايي ـ زمان وخت ته وايي او مکان ځاے ته خو ولې صرف دا تعريف يې کافي نه ګڼلے کيږي ـ د زمان او مکان د معنې او مفهوم په اړه په مختلفو ځايونو کښې رنګ رنګ تعريفونه شوي دي چې ما ترې دلته ځو حوالې پرله پسې راوړي دي ـ

"وخت ،محال ، شېبه،روزګار ، پېر ،[1]

زمانه ،دور ،وخت،موده ،ګړۍ ،ساعت،لږ وخت"[2]

"وقت،گھڑی،ساعت،دم،مدت،معیاد،وقفہ،زمانہ، عھد،دور،جگ,موقع،ھنگام،موسم،فصل،رت،فرصت،مھلت باری،نوبت،دفعہ،ھار،حالت،گت،عمر،زندگی،حیات،موت کی گھڑی ،مصیبت،وقت،دشواری"[3]

"وقت،خواہ وہ مُختصر ہو یا طویل، ہنگام،دور، عہد، گزشتہ، موجودہ یا آیندہ، نیز دوران، دنیا اور مافیہا ،رُت، موسم، فصل، آسمان، مُسلسل اور پے در پے لمحات یا آفات کا مجموعہ، حرکت کی مقدار (جس طرح نُقطے کی حرکت یا کشش سے خط صورت پذیر ہوتا ہے اسی طرح لمحے یا آن کے تسلسل سے زمان وجود میں آتا ہے )روز وشب اور ماہ وسال کے تسلسل کی ہیئتِ مجموعی، وہ جو موجود ہو، اس کا وجود قرار پذیر نہ ہو، جگ، مُدّت، عصر، وقت (تصوّف) جو ہر وقت بدلتا رہے "[4]

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلّہ

"وقت ایک ایسی تجرید ہے جو نہ دیکھی جاسکتی ہے نہ سنی یا چھوٹی جاسکتی ہے۔ ہم وقت کے حوالے سے مدت عرصہ اور زمانہ جیسے الفاظ استعمال کرتے ہیں تو اُس میں. میں پھیلاؤ اور وسعت پذیری کا مفہوم خود بخود شامل ہو جاتا ہے۔ کیونکہ ہم وقت کا عمومی تصور اس کائنات میں ہونے والے واقعات کے ذریعے کرتے ہیں۔"[5]

> Time, a measured or measurable period, a continuum that lacks spatial dimensions. Time is of philosophical interest and is also the subject of mathematical and scientific investigation.[6]

ژباړه "وخت یوه ټاکلې یا اندازه کېدونکې موده ته ویل کېږي. دا یو پرله پسې بهیر دے چې مکاني ابعاد نه لري. وخت د فلسفي له اهمو بحثونو نه دے او هم دارنګه د ریاضیاتو او طبیعي علومو د مطالعې موضوع هم ګڼل کېږي."

زمان هغه لړۍ ده چې په کښې پېښې او شېبې تر سره کېږي. وخت کښې لنډې شېبې، ساعتونه، ورځې، میاشتې، کلونه او تردې چې د ژوند ټولې مرحلې شاملې دي. وخت د انساني ژوند، د طبیعت د بدلونونو او د نړۍ د پېښو د ترتیب د پاره جوړ شوے، خو نه لیدلے کېږي، نه اورېدلے کېږي او نه هم د لاس په وسیله نیولے کېږي. مونږ د وخت د پاره مختلف الفاظ کاروو لکه شېبه، ساعت، ورځ، موسم، ژوند او موده، چې ټول د وخت د اندازې او اهمیت ښکارکونه کوي. ساده مطلب دا چې، وخت مونږ ته د پېښو د ترتیب او د ژوند د تجربو د پوهېدو د پاره یو جوړښت راکوي ۔ دغه شان به اوس د مکان په حقله هم یو څو تعریفونه پرله پسې راوړم چې دا اندازه اوشي چې مکان څۀ شے دے ۔

د اوسېدو ځاے، ځاے، کور ،استان،استانه"، [7]

ځاے،کور،داوسېدلوځاے

-،عمارت،اباد ے،مقام،محل"[8]

"جگہ، مقام، ٹھکانہ،وسعت جس میں کوئی وجود سما سکے یا سمایا ہو (زمان کے بر خلاف) رہنے کے لیے بنی ہوئی عمارت یا جگہ، مسکن، حویلی،گھر، مقام بود و باش (مجازاً) اہل خانہ،گھر کے لوگ اہلیہ، بیگم،بیوی (قدیم)مقام،رتبہ،درجہ "[9]

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

"مطلق فضا (مکان) کسي خارجي شے کے لحاظ نھیں بلکہ فی نفسہ محض اپنی حقیقت کی بناپر غیر متغیر اور غیر متحرک ہے، اضافی مکان مطلق مکان کا ایک حرکت پزیر حصہ ہے ھمارے حواس اس کو دوسری اشیاکی لحاظ سے اس کے مقام کے ذریعے محسوس کرتے ہے"10

مکان يا ځاے هغه دے چې هر څه پکښې موجودګي لري او ژوند پکښې يو بهير لري. دا ځاے کېدا ے شي، کور،فضا، اپارټمنټ، ښار، د اوسېدلو ځاے، يا هر داسې ځاے وي چې انسان، ځاروي او نور شيان پکښې ژوند کوي. مکان صرف د يو څيز په نظر نه وي، بلکې خپله خپله وجود لري او مونږ يې د نورو څيزونو په نسبت احساس کوو. په فلسفي او علمي نظر کښې، مکان يو مطلق حقيقت دے چې ثابت او غېر متحرک دے، او د نورو څيزونو د موجودګۍ سره تړاو لري. هم دارنګه، مکان صرف طبعياتي نه دے، بلکې د خلقو د اوسېدو، ژوند، کورنۍ، مقام او رتبې د پاره هم معنې لري. په ساده ټکو کښې، مکان د ژوند، ترتيب او د موجوداتو د شتون د پاره بنيادي چوکاټ جوړوي.

زمان او مکان (Time and Space) د انسان د تجربې بنيادي عناصر دي ، ځکه هره پېښه، عمل او بدلون هم په زمان کښې واقع کېږي او هم په يو خاص مکان کښې. زمان د پېښو د تېرېدو، بدلون، تسلسل او ترتيب احساس ته ويل کېږي؛ يعنې دا ښايي چې څه شے مخکې اوشو، اوس روان دے او يا به وروسته کېږي. مکان بيا هغه طبعياتي يا ذهني ځاے دے چرته چې يو شے، انسان يا پېښه موجودګي لري. مطلب دا چې، که زمان د "کله؟" پوښتنې ځواب وي، نو مکان د "چرته؟" پوښتنې ځواب دے.

د زمان او مکان نه علاوه نه تاريخ تصور کېدے شي، نه انساني ژوند او نه ادبي او ټولنيزې پېښې. ځکه خو زمان او مکان صرف د وخت او مقام نوم نه دے بلکې دا تصورات په اساطير کښې په بېل انداز کښې ذکر شوي دي ، په فلسفه کښې په بيل انداز ذکر شوي دي په الهيات کښې په بېل،داسې په مذهب،ادب او په سائنس کښې په خپل بېل بيل انداز ذکر شوي چې د هر يو تصور جدا جدا دے .

په اساطيرو کښې د زمان او مکان تصور :

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03


په اساطيرو کښې د زمان او مکان تصور د علمي او فلسفي فکر نه بېل وي. زمان پکښې خطي نه، بلکې دايري او تکراري ګڼلے کېږي، يعنې پېښې يو ځل نه بلکې بيا بيا راګرځي او تېر، اوس او راتلونکے يو د بل سره نښتي وي. اساطيري زمان زياتره د ازلي يا مقدس وخت په توګه ښکاره کيږي، هغه وخت چې اتلان او کائناتي پېښې پکښې رامنځته شوې وي او د ظاهري ساعت او نېټې تابع نه وي. هم دارنګه مکان هم صرف يو طبعياتي ځاے نه، بلکې مقدس او علامتي اهميت لري؛ لکه غرونه، مقدس ښارونه او د اسمان، زمکې او لاندې نړۍ درې ګونې جوړښت. په اساطيرو کښې زمان او مکان يو د بل نه جدا نه دي ، بلکې يو بل مکمل کوي، او انسان د مقدسو قيصو او رسمونو د وجې بېرته هماغه ازلي زمان او خاص مکان ته ستنېږي.

"اساطيري فکر کښې زمان او مکان دواړه د کائناتي
ترتيب تابع دي، چرته چې زمان د دوراني تکرار او مکان د
تقدس په شکل راڅرګندېږي؛ خو مذهبي او فکري ارتقا
سره زمان خطي او مکان تاريخي کېږي"[11]

په اساطيرو کښې زمان او مکان صرف طبعياتي نه ګڼلے کېږي، بلکې د خدايانو، مثالي کردارونو او افسانوي پېښو د حالت د جوړولو وسيله ده. وخت کله تېز، کله ورو ښودلے کېږي او مکانونه يو خاص قدرتونه لري چې د قيصې د پېښو سره سم بدلېږي. اساطيري روايتونه د انسان د تجربو، ارزښتونو او اخلاقو د پاره د زمان او مکان د وجې خاص پېژندنې وړاندې کوي۔

په فلسفه کښې د زمان او مکان تصور :

په فلسفه کښې د زمان او مکان تصور د انساني فکر د بنيادي موضوعاتو نه يو ګڼلے کېږي. فلسفيان دا کوشش کوي چې په دې ځان پوه کړو چې زمان او مکان خپلواک حقيقتونه دي او که د انسان د ذهن پيداوار. ځينو فلسفيانو، لکه افلاطون او ارسطو، زمان د بدلون او حرکت سره د نسبت تشريح کوي او مکان يې د شيانو د شتون چوکاټ بللے دے. نيوټن زمان او مکان مطلق او د کائنات نه مستقل ګڼل، خو کانټ بيا دا دواړه د انسان د ادراک بنيادي قالبونه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

وګرځول، یعنې انسان له زمان او مکان نه علاوه نړۍ نه شي پېژندلے. په معاصره فلسفه کښې زمان او مکان یا خو د واقعیت عینې برخې ګڼلے کېږي او یا هم د انساني تجربې او شعور سره تړلي مفهومونه بللے کېږي، نو له هم دې وجې د زمان او مکان فلسفي تصور یو واحد نه، بلکې بېلابېل او جدتي نظریات لري.

"زمان/وخت او مکان/ځاے هغه لارې دي چې زمونږ ذهن پرې نړۍ ادرک کوي. دا پخپله د نړۍ بهرني او خپلواک شیان نه دي، خو د انسان د پوهېدو او احساس کولو لپاره ډېر ضروري دي." [12]

په فلسفه کښې زمان او مکان صرف د ساعتونو/ګنټو د پاره نه ګڼل کېږي، بلکې د انسان د فکر او وجود د تجربو چوکاټونه دي. زمان او مکان د انسان د ژوند، پوهې او شعور سره تړاو لري او د نړۍ د پېښو د معنې د پاره لاربنوونه کوي. فلسفي نظریات دا ښايي چې زمان او مکان مطلق نه دي، بلکې د انسان د پوهې او فکر پورې تړلي مفهومونه دي۔

د زمان او مکان ټولنیز تصور :

د زمان او مکان ټولنیز تصور دې خبرې ته اشاره کوي چې زمان او مکان صرف طبیعاتي حقیقتونه نه دي، بلکې د انساني ټولنو له خوا د خپلو ضرورتونو، کلتور، دودونو او ټولنیزو رابطو په رڼا کښې جوړېږي . هره ټولنه وخت د خپلو دودونو، کاري نظام، مذهبي مراسمو او تاریخي تجربو د مخې ترتیبوي، لکه د کار وخت، رخصتۍ او مقدس ورځې، او هم دارنګه ځاے هم یوازې جغرافیه نه ده، بلکې کور، کلي، ښار او مقدس ځایونه خاص ټولنیز ارزښت لري. له هم دې وجې د زمان او مکان احساس د یوې ټولنې نه بلې ته بدلېږي او دا دواړه د انساني ژوند، ټولنیز نظم او کلتوري پېژندنې په جوړولو کښې اهم رول لري. په دې اړه د ایمائیل دورخائم Émile Durkheim د وينا مفهوم داسې دے ۔

" زمان او مکان د ټولنیز حېثیت collective representationsبرخه ګڼي،یعنې دا صرف فطري

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

حقايق نه دي بلکې د ټولنې له خوا جوړ شوي مفهومونه دي، ."[13]

په ټولنه کښې زمان او مکان صرف د ساعت او نقشې د پاره نه وي، بلکې د خلقو د ژوند د ترتيب او کارونو د سمون وسيله وي. خلق د زمان له مخې خپلې چارې، اخترونه او غونډې ټاکي او د مکان له مخې کور، بازار او ټولنيز ځايونه جوړوي. ټولنيز نظر مونږ ته دا ښايي چې زمان او مکان د خلقو د ژوند او رابطو د پاره ارزښت لري۔

په الهيات کښې د زمان او مکان تصور:

په الهيات کښې، زمان/وخت او مکان/ځاے د خداے د ذات او صفاتو سره تړاو لري. په الهيات کښې دا بحث کېږي چې آيا خداے د زمان او مکان تابع دے که د دې دواړو نه اوچت او ازاد دے، او آيا زمان او مکان مخلوق دي يا ازلي. د الهياتي تصور په بنياد زمان او مکان د خداے د حضور، ازليت او ابديت له نظره مطالعه کېږي، او هدف يې د خداے د صفاتو او کائنات د جوړښت فلسفي پوهه ترلاسه کول دي.

د الهياتو تصور خو په هر يو دين لکه يهودي ، عيسايي ، اسلام او داسې نورو کښې جدا جدا دي خو په ټولو کښې زمان او مکان په اړه دا تصور دے چې الله پاک د زمان او مکان نه اوچت او مبرا دے ۔ زمان او مکان د خداے له طرفه پېدا شوي څيزونه دي ۔

> "Theism is the view that there exists a person who is, in significant ways, unlike every other person. This person, whom we will call "God," is the creator of the entire universe.[14]

ژباړه :"د تېيزم دا خيال دے چې يو داسې ذات شته چې يو شخص دے، خو په ډېرو اهمو اړخونو کښې له ټولو نورو اشخاصو بېخي جدا او خاص دے. دې ذات ته مونږ خداے وايو، او هغه د ټول کائنات خالق دے."

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

په اسلامي الهیاتو کښې دا تصور د ے چې الله پاک د هر څه نه اول موجود وۀ او دا دنیا هېڅ څیز نه وۀ او بیا به هم داسې وخت راشي چې دا ټول هر څه به نه وي الله پاک به بیا هم موجود وي په قران کښې په دې حقله بلها ایاتونه موجود دي .

"هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ "[15]

ژباړه "هغه (الله) د ے چې اولنے د ے، وروستے د ے، ښکاره د ے او پټ هم د ے؛ او هغه په هر څه پوهه د ے".

اسلامي الهیات کښې الله پاک د ازل نه موجود وۀ او تر ابده به وي او دا دنیا او هر څه الله پاک په خپل قدرت پېدا کړي دي .

"الزمان حادث ومخلوق وليس قبله زمان أصلا، ونعنى بقولنا ان الله متقدم على العالم والزمان انه كان ولا عالم ثم كان ومعه عالم .ومفهوم قولنا كان ولاعالم، وجود ذات البارى وعدم ذات العالم فقط ومفهوم قولنا كان ومعه عالم وجود الذاتين فقط. فنعنى بالتقدم انفراده بالوجود فقط، والعالم كشخص واحد. ولو قلنا، كان الله ولاعيسى مثلا ثم كان وعيسى معه، لم يتضمن اللفظ الاوجود ذات وعدم ذات ثم وجود ذاتين. وليس من ضرورة ذلك تقدير شيء ثالث، وان كان الوهم"[16]

ژباړه :" زمان حادث د ے او مخلوق د ے، او د دې مخکې هېڅ زمان موجود نه وۀ. او له دې وېنا نه چې الله په عالم او زمان مقدم د ے دا مطلب د ے چې الله موجود وۀ، خو عالم موجود نه وۀ؛بیا الله موجود وۀ او له هغه سره عالم هم موجود شو.او زمونږ د دې وینا مفهوم چې الله وو، خو عالم نه وو دا د ے چې صرف د باري تعالی ذات موجود وۀ او د عالم ذات موجود نه وۀ. او زمونږ د دې وینا مفهوم چې الله وۀ او له هغه سره عالم هم وۀ دا دی چې دواړه ذاتونه موجود شول.نو د «تقدم» نه زمونږ مقصد دا د ے چې الله یوازې په وجود کښې منفرد وۀ، او عالم د یو واحد شخص په څېر ګڼل شو ے د ے.او که مونږ ووایو :الله وۀ، خو عیسی موجود نه وۀ؛ بیا الله وۀ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03


او عیسی هم ورسره موجود شونو په دې وینا کښې یوازې د یو ذات وجود او د بل ذات نشتوالے، او بیا د دواړو ذاتونو وجود ثابتېږي. له دې نه دا هېڅ لازمه نه ده چې د دریم شي وجود فرض شي، که څه هم خیال (وهم) داسې تصور کوي"

د خداے قدرت د ټول کائنات د پیدا کېدو اصل او بنیاد دے. زمان/وخت هم د هغه د ارادې او حکمت له مخې ټاکل شوے، څکه اسمانونه او زمکه یې په شپږو ټاکلو ورځو کښې پیدا کړل. هم داسې، ځاے (مکان) هم د خداے د تدبیر له مخې جوړ شوے دے، او ټول موجودات په هم دې ټاکلي نظام او ترتیب کښې حرکت کوي.دا آیت ښایي چې زمان/وخت او مکان صرف طبیعي یا طبعیاتي حقیقتونه نه دي، بلکې د خداے د قدرت او حکمت یوه برخه ده.

"وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ"[17]

ژباړه :" او هماغه ذات دے چې اسمانونه او زمکه یې په شپږو ورځو کښې پیدا کړل، او د هغه عرش پر اوبو وۀ.

"الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۚ الرَّحْمَٰنُ فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا"[18]

ژباړه :" هغه ذات دے چې اسمانونه، زمکه او هغه څه چې د دواړو ترمنځ دي، په شپږو ورځو کښې یې پیدا کړل؛ بیا په عرش قائم شو. هم هغه ډېر مهربان (رحمان) دے، نو د هغه په اړه له پوه کس نه وپوښته.

"اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ"[19]

ژباړه :" الله هغه ذات دے چې اسمانونه، زمکه او هغه څه چې د دواړو ترمنځ دي، په شپږو ورځو کښې یې پیدا کړل، بیا پر عرش قائم شو.

دا آیتونه وایي چې خداے اسمانونه او زمکه پیدا کړي دي او هر څه یې په شپږو ورځو کښې جوړ کړي دي. دلته د «شپږ ورځې» مطلب دا نه دے چې لکه څنګه چې زمونږ ورځ ده څلیریشت ګنتې، بلکې د خداے د پاره زمان د ډېر لوړ او خاص قدرت نښه ده. هم دارنګه، د «عرش» ذکر ښایي چې خداے خپل ځاے لري چې د نړۍ د ترتیب او کائنات د واک مرکز دے، خو دا ځاے زمونږ د پوهې د عام

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03



ځای نه ډېر لوړ او اوچت دی. په دې توګه، آيتونه مونږ ته دا ښايي چې زمان او مکان د خدای په قدرت کښې دي او د کائنات د جوړښت او ترتيب د پوهېدو د پاره د هغه قدرت ښکاره کوي ۔

پہ مذهب کښې د زمان او مکان تصور :

په مذهب کښې زمان/وخت او مکان/ځای خاص اهميت لري. زمان/وخت د خدای د طرفه ټاکل شوي ګڼلی کېږي، لکه د پېدا ايښت وخت، مقدس ورځې، د اختر او جمعې ورځ، او د قيامت وخت. مکان/ځای هم صرف طبعياتي نه، بلکې مقدس ګڼلی کېږي، لکه مسجد ، کعبه يا نورو عبادت ځايونو. په دې تصور کښې وخت اکثر خطي شکل لري يعني شروع، منځ او اخر، او خلق د خپل عبادت، مانځه او مذهبي ژوند په ترتيب کښې د دې زمان او مکان اهميت ته توجو ورکولی کيږي په مذهبي فکر کښې زمان او مکان هغه دي چې د انسان د عملي ژوند ، عبادت او د ايمان د دودونو لپاره اهميت لري.بيا په هر يو مذهب کښې د زمان او مکان خپل خپل ځانله تصور دی لکه يهودي ،عيسايي او داسې نورو مذهبونو کښې جدا جدا تصور دی په اسلام کښې خپل تصور دی لکه داسې -

أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ...

ژباړه: لمونځ د نمر لوېدو نه تر شپې پورې وکړئ۔

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا[20]...

ژباړه:بېشکه د مياشتو شمېر د الله په نزد دولس مياشتې دي...

وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ...

ژباړه: د خلقو د پاره د حج اعلان وکړه چې د هر ځای نه راشي۔

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ۔[21]

ژباړه:او کله چې د دوي ټاکل شوي وخت راشي، نه يو ساعت وروسته پاتې کېږي او نه مخکې.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ۔[22]

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03



ژباړه :" په اسمانونو او زمکې پېدائش کښې، او د شپې او ورځې په بدلون کښې د پوهې لرونکو خلقو د پاره څرګندې نښې شته۔

دا آیتونه موښږ ته دا ښايي چې زمان او مکان د خدا ے په لاس کښې دي او د انسانانو د پاره لارښودنه کوي. وړومبے آیت د مونځ وختونه د ورځې په ترتيب کښې ټاکي، چې زمان د عبادت او د انسان د نظم يوه وسيله ده. دويم آیت د مياشتو شمېر څرګندوي، چې کال او مياشتې د خدا ے لطرفه ټاکلي شوي، او د عبادتونو او رسمونو د پاره ترتيب لري. دريم آيت د حج د زمان او مکان بيان کوي، چې خلق بايد په ټاکلي زمان او مکان کښې د خدا ے عبادت اوکړي. څلورم آيت دا څرګندوي چې د ژوند اخري وخت ټاکلے د ے او هېڅوک خپل وخت نه شي مخکې يا وروسته کولے. پنځم آيت د ورځې او شپې بدلون او د آسمانونو او زمکې پېدا کول يادوي، چې دا ټول د خدا ے د قوت او ترتيب نښه ده. په ټوليزه توګه، دا آيتونه موښږ ته دا درس راکوي چې زمان او مکان په اسلامي فکر کښې د خدا ے د قدرت، نظم او د انسانانو د ژوند د سمون د پاره ځانګړ ے اهميت لري.په اسلام کښې د سليمان عليه السلام د بلقيس واقعه ،د عزېر عليه السلام واقعه ،د اصحاب کهف واقعه،او داسې د معراج واقعه د طي زمان،او طي مکاني په نوم يادېږي -

په ادب کښې د زمان او مکان تصور :

په ادب کښې د زمان او مکان تصور د انسان د احساساتو، تجربو او تصوراتو د مخې څرګندېږي. زمان صرف يو زماني ترتيب نه د ے، بلکې د قيصو، شعرونو او داستانونو په شکل ژوندۍ معنا لري؛ تېر، اوس او راتلونکے د شخصيتونو د احساساتو او پېښو په تړاؤ ځانګړ ے ارزښت لري. مکان هم صرف طبعياتي نه، بلکې د فضاء، چاپېرچل او کلتوري ارزښتونو سره تړلے وي، لکه غرونه، سيندونه، ښارونه يا کورونه چې د قيصې فضا او چاپېرچل جوړوي. په دې توګه، په ادب کښې زمان او مکان د انساني تجربې انعکاس کوي او د لوستونکي لپاره د پېښو د پېژندګلو او احساس د چاپېرچل يوه وسيله جوړوي.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03



په ادب کښې د زمان او مکان په اړه د یو روسي لیکوال میخائیل باختین (Mikhail Bakhtin) اصطلاح چې د Chronotope په نوم ده دا کلمه له دوو یوناني کلمو (χρόνος) **"Chronos"**:وخت(Time) او (τόπος) **"Topos"**ځاے (Space)نه جوړه ده چې مرکبه معنا يې شوه د د وخت او ځاے ګډ جوړښت" د بختین په خیال هر یو ناول،افسانه یا قیصه خپل ځانله کرونوټوپ لري ۔

کرونوټوپ **(Chronotope)** هغه مفهوم دے چې په ادبیاتو کښې د زمان او مکان د ترتیب او جوړښت احوال په ژبه او خبرو کښې ښکاره کوي. دغه اصطلاح د روسي ادب پوهه میخائیل باختین **(Mikhail Bakhtin)** له خوا په اول ځل استعمال کړې ده۔چې په خپله نظریه کښې يې د ژبې او ادب د معنې د جوړېدو یوه اصلي برخه ګڼلې ده. د دې کلمې اصل روسي хронотоп ده، چې له یوناني ژبې نه رااخستل شوې (= *χρόνος* :وخت) او (= *τόπος*ځاے)، نو کره معنا يې «وخت-ځاے» ده. باختین دا اصطلاح په خپل ۱۹۳۷ کال کښې د "Forms of Time and of the Chronotope in the Novel" («Формы времени и хронотопа в романе») مقالې کښې وړاندې کړه. هغه وښودله چې بېلابېل ادبي قسمونه د زمان او مکان بېلابېل جوړښتونه لري، او هم دا جوړښت د هر قسم خاص قیصه ییزه شکل ټاکي."[23]

د میخائیل بختین په خیال هره قیصه یا واقعه چې په ناول ،افسانه وغېره کښې وي یو ځانله کرونوټوپ (Chronotope) جوړوي لکه د مثال په طور کۀ یوه قیصه چې د غرونو په یو لرې کلي کښې پېښېږي، د زمان فضا د ژمي په سختو ورځو کښې وي، چې شپې اوږدې او ورځې لنډې وي. دلته د کرونوټوپ مثال څرګندېږي د کلي لرې والے او د ژمي سختي نه صرف د مکان او زمان یوه طبعیاتي

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

شکل وړاندې کوي، بلکې د قیصې د کردارونو احساسات، ځانله والے او مبارزه هم څرګندوي. د زمان او مکان دا خاص ترکیب د قیصې ټولیزه فضا ښکاري کوي او په دې وجه لوستونکے د پېښو سره ژور تړاو پېدا کوي.

په سائنس کښې د زمان او مکان تصور :

په سائنس کښې د زمان او مکان د تصور نه وړاندې دا ضروري ده چې د نړۍ/کائنات/ مختصر شان تعریف اوکړم ۔ دا څومره انسان چې په دې موجوده سیاره اوسیږي دا زمکه ده او دې سره سپوږمۍ، نمر او نور په اربونو ستوري چې مونږه ته په نظر راځي ،دا ستوري د نمر نه په څو څو چنده لوې دي او چې دا ټول راټول شي نو یوه کهکشا جوړه کړي ،چې د یو کهکشا فاصله د یو سر نه تر بله سره په اربونو نوري کالونه ده ،او دغه شان په اربونو کهکشاګانې دي او چې دا په اربونو کهکشاګانې یو ځائے شي نو یو کلسټر جوړ کړي او داسې چې په اربونو کلسټر یو ځائے شي نو سوپر کلسټر جوړ کړي او چې په اربونو کلسټر رایو ځائے شي نو /کائنات/نړۍ ورته وايي۔

په سائنس کښې د زمان او مکان تصور د فزکس له بنیادي اصولو سره تړلے دے. په کلاسیکي فزکس کښې ، لکه د نیوټن په نظریه کښې، زمان یو مطلق او یو شان بهېدونکے حقیقت ګڼل کېدۀ او مکان یو ثابت چوکاټ وۀ چې ټول اجسام پکښې حرکت کوي، یعنې زمان او مکان له یو بل نه جدا او خپلواک څیزونه وو .

د نیوټن په خیال وخت تل روان دے او په یوه نېغه کرښه کښې مخکښې ځي. که په نړۍ کښې هېڅ ماده هم نه وي، بیا به هم ځائے موجود وي او وخت به پکښې روان وي. یعنې وخت له کائنات نه جدا خپل وجود لري. که کائنات ختم هم شي، وخت به بیا هم روان وي. د هم دې د پاره نیوټن د مطلق وخت او عام وخت ترمنځ فرق کوي چې مونږ یې د ساعتونو په وسیله ګورو او اندازه کوو."[24]

د نیوټن خیال تر ډېره وخته پورې خلقو کښې مشهور وۀ خو د شلمې پېړۍ په سر کښې د آئن سټائن د اضافیت نظریې دا تصور بدل کړو؛ د ائن سټائن په


ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

خيال زمان او مکان يو د بله نه بېلېدونکي دي بلکې د زمان–مکان-Space)
(Timeپه نوم يومشترک حقيقت جوړوي چې (Space-Time Continuum)
ورته وايي . په دې تصور کښې د څيزونو حرکت، رفتار او کشش ثقل د زمان او مکان په اندازه کولو اثرپرېباسي، نو ځکه زمان هر چرته ته يو شان نه تېرېږي او مکان هم د مادې او توانايۍ له وجې کږېږي. هم دا وجه ده چې په جديد سائنس کښې زمان او مکان صرف ساده پس منظر نه دے، بلکې فعاله او متحرک حقيقتونه ګڼلے کېږي.

> اس طرح آئن سٹائن نے بتلایا کہ مکاں اور زماں ایک دوسرے سے علیحدہ اور مطلق نہیں ہیں بلکہ ایک دوسرے پر منحصر اور اضافی ہیں۔ کائنات مکان اور زمان دو مختلف چیزوں پر ستال مشتمل نہیں ہے بلکہ اس میں ایک ہی چیز جس کو "مکاں -زمان "سہ سکتے ہے -ہیں پائی. جاتی ھے جس میں مکاں اور زمان اس طرح سے گھل مل جاتے ہیں کہ ان میں امتیاز کرنا ممکن نہیں۔ اس کا نتیجہ یہ ہو کہ 19 ویں صدی میں " تین بعدی" دنیا کا جو تصور رائج تھا اس کی بجائے دنیا کے متعلق ہمارا تصور "چار بُعدی"ہو گیاہے-[25]

د ائن ستهائن خيال دا وۀ چې زمان د مکان نه نۀ جدا کېدونکے شے دے کۀ مکان درې اړخه three-dimensional دے نو وخت/زمان ورسره يو اړخ بعد يا One -dimensional جوړوي چې د شکل نه به داسې شي -




په فزکس اوږدوالے ،پلنوالے ،او لوړوالے په انګريزي x,y,z سره او Tوخت ليکلے شي - په ځانګړې نسبيت تيورۍ کښې د دوو پېښو ترمنځ فاصله داسې تعريفېږي:

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

(Δs)2=(c⋅Δt)2−(Δx)2−(Δy)2−(Δz)2(Δs)2=(c⋅Δt)2−(Δx)2−(Δy)2−(Δz)2

دا فارمولا ښايي چې زمان او مکان جدا نه دي، بلکې يو ګډ څلور بعدي زمان او مکان جوړوي.

په جديد سائنس کښې خو زمان د مکان سره يو ځاے پېدا شوے ګڼلے کېږي او دا وايي چې دا کائنات د يوې لوې چاودنې په صورت کښې مخې ته راغلې ده چې د دې سره زمان هم پېدا شوے دے او مکان هم ـ او دې لوې چاودنې ته د بګ بينګ نظريه وايي ـ

"بک بينګ يا لويه چاؤدنه نن صبا د طبعياتو او سائنس ډېر لوئے موضوع ده او د کائنات يا زمان اومکان په باره کښې تقريباً ټول په دې خبره متفق دي او تر کومې چې په يوه نوي بله نظريه د دې بوط ترديد نه وي شوې نو د کائنات او موجوداتو باره کښې به هم د دغه چاودنې په بنياد خبرې کېږي "[26]

د سائنس پوهانو دا خيال دے چې زمان او مکان هم د دې بګ بينګ يا لوې چاودنې سره پېدا شوي دي او له دې نه مخکې نه وو د سائنس پوهانو دا خيال دے چې په فضا کښې څومره ګېسونه ،ماديات، او هر څه دي دا د بګ بينګ د چاودنې سره پېدا شوي دي ځينې پوهان لکه پروفېسر احمد رفيق اختر په يو لکچر کښې د بګ بينګ دا چاودنه د قران پاک د دې ايات د مفهوم سره ياده کړې ده ـ

"أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا"[27]

ژباړه: ايا هغو کسانو چې کفر کوي، نه دي ليدلي چې اسمانونه او زمکه يو (سره نښتي) وو، نو موږ دواړه جدا کړل؟"

دلته "رتقاً" معنا ده يو بل سره، نښتي، او "فتقناهما" معنا ده جدا کول يا خپرول. ډېر مفسرين وايي چې دا آيت ښايي چې اسمانونه او زمکه (ټول کائنات) يو ځاے وو، بيا الله (ج) هغه جدا کړل.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

په سائنسي تصور کښې د زمان او مکان په اړه دا هم وئيلے کيږي چې کۀ د يو څيز رفتار د نمر د رڼا په رفتار شي يا د رڼا رفتا ته ورنږدې شي نو په هغه څيز به وخت نه تېريږي يعنې د هغه څيز د پاره به وخت اودريږي دا خيال د نيوي سائنس په اهمو نظرياتو کښې شامل دے ۔

نظریہ اضافت Special relativity کے تحت جب کوئی جسم روز مرہ زیر مشاہدہ رہنے والی رفتار سے غیر معمولی حد تک تیز چلنا شروع کر دے تو اس کی حسیات بھی حیرت انگیز طور پر متاثر ہوں گی اور زندگی، کائنات اور وقت کے متعلق اس کے نظریات میں نمایاں فرق پیدا ہو گا۔ روشنی کی رفتار سے یا اس کے قریب سفر کرنے سے جو حیرت انگیز تجربہ ہو گا اسے Time dilation کہتے ہیں۔"[28]

د ائن سټائن د نظريې مطابق وخت داسې څيز نه دے چې هرې سيارې، کهکشا ، نوره فضا کښې دې يو شان وي بلکې دا د مکان په کشش ثقل Gravity او حرکت پورې اړه لري کۀ د يو ځاے کشش ثقل حرکت بدل وي نو د هغه ځاے د وخت تېرېدل به هم بدل وي ۔

د زمان او مکان په اړه د سائنس تصور ډېر خور وور دے چې په دې کښې د نورو سيارو، ستورو، کهکشاګانو او بليک هولونو زمان او مکان بيخي د دې زمکې د زمان او مکان نه بدل دے ۔ او دا هم سائنس پوهان وايي چې بليک هول ته خو تلل په لاکهونو نوري کلونه عمر غواړي خو کۀ بيا هم يو څيز يا کس لاړ شي نو د هغه ځاے کشش ثقل Gravity دومره زياته ده چې دلته به په سلګونو کالونه تير وي او هلته به يو څو منټونه تير وي ۔

"کۀ څوک د بليک هول سره نږدې وي، نو د هغه وخت د لرې خلقو په نسبت ورو تېريږي. او چې ډېر ډېر نږدې شي، د لرې خلقو د نظره داسې ښکاري لکه چې وخت بيخي ودرېدلے وي"[29]

زما د مقالې د خبرو نه دا ښکاره شوه چې زمان او مکان صرف د ساعتونو او طبعياتي اندازه کولو څيزونه نه دي. بلکې دا د انسان د فکر، عقيدې او کلتور برخه هم ده. په سائنسي لحاظ، زمان او مکان د کائنات د قوانينو سره تړاو هم لري.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03



په مذهبي او الهياتي نظر کښې، د خدا ے د حکمت او د نړۍ د ترتيب نښه هم ده.
په ادبي او کلتوري نظر کښې، زمان او مکان د انسان د يادونو،احساساتو او تجربو ځاے هم دے.د هر طرف نه مونږ ته زمان او مکان مختلف مفهومونه راکوي،خو په شريکه ټول مونږه ته د نړۍ او ژوند په ستونزو کښې ښۀ انځورګري کوي -

په اخره کښې، د زمان او مکان پوهه مونږ ته دا ښايي چې نړۍ صرف د يو طرفه نه ليدلے کيږي بلکې دا د انسان فکر، عقيدې، هنر ، دودونو او رواجونو سره تړلي دي. د زمان او مکان د مختلفو افکارو زده کړه مونږ ته دا ښودنه کوي چې ژوند ، کائنات او انسان د څو اړخيزو تجربو مجموعه ده، او هر فکر مونږ ته د دې په اړه نوې پوهه راکوي-

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

# حوالي

1 - پښتو درياب ، قلندرمومند/فريد صحرايي - اين ډبليو ايف پي،پېښور، مخ ۸۰۱

2- پښتو اکېډيمي لغت،ډاکټر خيال بخاري،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،چاپ کال ۲۰۱۸ ، صفحه ۸۵۶

3 - جامع فیروزاللغات،صفحہ ۱۴۱۲

4 https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-zamaan-5?lang=ur

5 - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ ڈی مقالہ ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگو یجز ،اسلام اباد،۲۰۰۵،صفحہ ۱۵

6 . Britannica. (2025). Time. In *Encyclopaedia Britannica*.

7 - پښتو درياب ، قلندرمومند/فريد صحرايي ،اين ډبليو ايف پي،پېښور، مخ ۱۲۰۳

8- پښتو اکېډيمي لغت،ډاکټر خيال بخاري،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،چاپ کال ۲۰۱۸ ، صفحه ۱۶۵۳

9 - https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-makaan?lang=ur

10 - اقبال کا تصور زمان و مکان،ڈاکٹر رضی الدین صدیقی،اقبال اکیڈمی ظفر منزل،تاج پورہ لاہور،سن ندارد،صفحہ 24

11 - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ ڈی مقالہ ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگو یجز ،اسلام اباد،۲۰۰۵،صفحہ ۲۱،۲۰

12 . Kant, Immanuel,*Critique of Pure Reason*,Translated by Paul Guyer & Allen W,Wood,Cambridge,Cambridge University Press, 1998, A19–A26, pp. 125–135

13 - Durkheim, É. (1912).The Elementary Forms of the Religious Life.Translated by Karen E. Fields.New York: Free Press, 1995.Chapter 2, pp. 9–18

14 - *Internet Encyclopedia of Philosophy*, “God and Time” https://iep.utm.edu/god-time/

15 ــ قران مجيد،سورة الحديد، آيت 3

16 - Al-GhazaliThe Incoherence of the Philosophers A parallel English-Arabic text translated, introduced, and annotated byMichael E. Marmura, Brigham Young University Press • Provo, Utah * 2000, page 31

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to March2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

17 ــ قران مجید، سورة هود – آیت 7
18 ــ قران مجید، سورة الفرقان – آیت 59
19 ــ قران مجید، سورة السجدة – آیت 4
20 ــ قران مجید، سورت التوبه ، ایات۳۶
21 ــ قران مجید، سورت النحل ، ایات۶۱
22 ــ قران مجید، سورت ال عمران، ایات ۱۹۰

23 - Bakhtin, M. (1981). "Forms of time and of the chronotope in the novel". The Dialogic Imagination. Austin: Univ. Texas Press. pp. 84–258

24 - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ ڈی مقالہ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگو یجز ،اسلام اباد،۲۰۰۵،صفحہ ۹۰

25 - اضافیت، ڈاکٹر رضی الدین صاحب صدیقی، شائع کردہ انجمن ترقی اردو (ہند) دہلی، ۱۹٤۰، صفحہ ۵۵

26 - تصوف،افساني او حقیقت،سعدالله جان برق،اعراف پرنټرز،محله جنگي پیښور،چاپ کال ۲۰۱۷،صفحه ۳۹

27 ــ قران مجید،سورة الأنبياء، آیت 30

28 - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ ڈی مقالہ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگو یجز ،اسلام اباد،۲۰۰۵،صفحہ ۹۳،۹۰

29 - Misner, C. W., Thorne, K. S., & Wheeler, J. A., *Gravitation*, 1973, **Chapter 25, Section 25.2, p. 656**.